scottish refugee council

Pashto

# د کورنۍ بیا یوځای کیدنه:

## هغه مهاجرينو او يا خلکو ته چه بشري خونديتوب يې ترلاسه کړي وي

---

**لاندي معلومات به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو تاسو مخکي تر تي چه د خپل وکيل سره وگورئ د خپلي کورني د بياځايوالي په اړه تول هغه معلومات چه ستاسو لپاره اړين دي راتول کړي.**

که چيري تاسو د **مهاجرت موقف** او يا هم **بشري خونديتوب** لري، او غواړئ چه ستاسود کورنئ يو غړئ برتانيا ته ستاسو سره د ګډ ژوند په موخه راشي نو تاسو ته اړينه ده چه لاندي خبري ثابتي کړي:

- د بيلګي په ډول ستاسو د مهاجرت په اړه سند.
- هغه اسناد چه ثابت کړي هغوئ ستاسو د کورنئ غړي دي او مخکي تر دي چه تاسو هغه ځاي پريږدي هغوئ ستاسو سره ګډ ژوند کاوه. د بيلګي په توګه نکاح خط او يا د زيږدني/فرزندي سند او يا هم کورني انځورنه.
- او دا چه تاسو په منظمه توګه د هغوي په تماس کي ياست. د بيلګي په توګه د تيلفون کارتونه، ليکونه، د پيسو د ليږدوني سندونه.

**ستاسو د کورنئ غړئ هم بايد د برتانيا سفارت ته ثابته کړي:**

1) د ميره/ميرمني/د تولنيز ملګري په صورت کښي[1]
   - هم هغوي او هم ستاسو عمر تر 21 کالنى لوړ دي.

2) د ماشوم په حالت کښي (د فرزندي په ګډون)
   - د هغه عمر تر 18 کالو کم او واده يې ندي کړي او يا هم مستقل ژوند کوي. (که چيري ستاسو ماشوم 18 کلنئ ته نژدي وئ، نو مهرباني وکړي پدي اړه ژر تر ژره مشوره تر لاسه کړي – تاسو بايد مخکي تر دې چه هغوي اتلسمه کليزه ونمانځي بايد غوښتنه ثبت کړي.)

3) د نورو غړو په صورت کي
   - دا چه هغوي په تاسو باندي متکي دی، د بيلګي په توګه تاسو هغوئ ته پيسي استوي، يا هغوئ تنها او يا هم ډير زاړه دي او يا هم هغوئ ستاسو د ډير نژدي کورنيو غړو څخه دي، او؛
   - د هغوي حالت داسي دي چه "کار ته مجبور او ډير خوار دي[2]" پدې معني چه هغوئ په ډير ستونزمن حالت کښي ژوند کوي او د هغوئ د پاملرني څوک نشته.

**نور مهم معلومات:**

- هر ډول اصلي سند بايد په انګليسي ژبه وژباړل شي.
- که چيري ستاسو د کورنئ غړي پاسپورت او يا هم د پيرندګلوي (تذکيره) سند ولري، دغه کار به ستاسو د غوښتنليک سره ډيره مرسته وکړي.
- ستاسو د کورنئ غړي اوس په کوم حالت کښي ژوند کوي؟ د چا سره ژوند کوي؟ څوک ورسره مرسته کوي؟ او ولي هلته خپل ژوند ته دوام نشي ورکولای؟

---

1 د هم جنس بازو د حقوقو په رسميت پيرندنه

2 IAT ته د کورنيو چارو د وزارت د پاليسي جوړوني د څانګه يادداښت، د 2004 د جون 29 مه

**هغه ګټور شواهد چه تاسو یی د مقرراتو د پوره کولو په موخه را ټولولای شي**

| د مقرراتو غوښتني | د شواهدو بېلګي |
|---|---|
| د پاتي کيدلو لپاره غير قطعي رخصتي | ستاسو د مهاجرت په اړه اسناد<br>ستاسو د سفر په اړه سند |
| اړيکي/د کورنی برخه | ستاسو نکاح خط<br>د ماشوم د زيږدني/فرزندی سند<br>ستاسو د واده د مراسمو او يا کورني انځورونه |
| په منظم ډول د اړيکو ټينګول | د تيلفون کارټونه او يا ثبتوني ليکونه<br>د پيسو د ليږدولو سند |

**څوک مرسته کولای شي؟**

د مهاجرينو لپاره د سکاټلنډ اداره د کورني سره د يوځای کيدو چوپړ نه وړاندي کوي، البته ستاسو قانوني وکيل کولای شي پدې اړه ستاسو سره مرسته وکړي، که چيري تاسو وکيل نلري او يا هم خپل اوسنی وکيل تغير کړي، نو مونږ کولای شو د وکيلانو د نومونو او پتو ليست ستاسو لپاره چمتو کړو.

لکه څرنګه چه پورته ووېل شول، مهرباني وکړي ډاډه شي چه تاسو ټولي اړيني غوښتني او شواهد لوستلي او دا چه دغه ټول معلومات ستاسو د غوښتني د ثبتولو وړاندي د پلي کيدلو وړ دي.

**The Scottish Refugee Council** 5 Cadogan Square,
(170 Blythswood Court) Glasgow G2 7PH
**د تيلفون وړيا شميره: 0800 085 6087**
**برېښناليک:** info@scottishrefugeecouncil.org.uk
**ويب پاڼه:** www.scottishrefugeecouncil.org.uk
د خيريه ثبت ګڼه: SC008639